# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۷ د کب ۱۳مه | د ۲۰۱۹ د مارچ څلورمه | دویم کال| ۳٤٤مه ګڼه


## هېواد

۴ مخ

### پالوو

د پالـوو ۲۲ سـلنه خلـک د کرنـې او کبانـو د نیولـو او پروسـس پـه سـکټور کـې پـر کار بوخـت دي او د دغـه هېـواد اتـه سـلنه ناخالـص کـورني تولیـدات، هـم لـه همدغـه سـکټور څخـه لاسـته راځـي.



### د مزارشریف د نفتو او جوزجان د صندوقلي د استخراج لړۍ بیا پیلېږي



ټاکل شوې چې د مزارشریف د نفتو او جوزجان د صندوقلي د استخراج لړۍ له څه ځنډ وروسته بیا پیل شي.

د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند عبدالقدیر مطفي وایي، چې د استخراج کار عملاً پیل شوی او د عملیاتو او استخراج لپاره ماشینونه سیمې ته لېږدول شوي او ډېر ژر به اکتشافي کارونه پیل شي.

د معلوماتو پر بنسټ، د مزارشریف د نفتو او جوزجان د صندوقلي پروژو د کار د پیل تړون په ۱۳۹۲ لمریز کال کې له نفتي شرکتونو سره لاسلیک شو، خو د تړونونو په عملي کېدو او نړیوالو بازارونو کې د ستونزو له امله یې کار یوڅه وځنډېد.

ویل کېږي چې غضنفر ګروپ له افغانستانه، ترکش پټرولیم له ترکیې او د راګن اویل شرکت له متحده عربي اماراتو، هغه شرکتونه دي چې د دغو پروژو کارونه مخته وړي.

# مایک پامپیو افغانستان ته خپل سفر د سولې لپاره د ملي پلاوي په جوړېدو پورې مشروط کړی دی



۳

سېلاب ځپلو ته جدي پام پکار دی

۲ مخ

د هند- پاکستان تجارتي جګړه؛ پر تجارت او اقتصاد څومره اغېز لري؟

۲ مخ

په عربستان کې د افغانستان د دوو ټوټو څمکو اصلي مالک څوک دی؟

۳ مخ

## شاهین: له افغان حکومت سره د سولې خبرې نه کوو

وسله وال طالبان له افغان حکومت سره له مخامخ خبرو اترو ډډه کوي او وایي چې د دوی له نظره اوسنی حکومت مشروعیت نه لري.

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي، چې دا ډله د پاکستان او نورو هېوادونو د لاس اله نه ده، خو د هغوی د ملي ګټو درناوی کوي او له هغوی نه هم د افغانستان ملي ګټو ته د درناوي غوښتنه لري.

شاهین ویلي: «زه دا ادعا په بشپړ ډول ردوم. پاکستان خپلې ملي ګټې او موږ خپلې ملي ګټې لرو. موږ د دوی ملي ګټو ته درناوی لرو، خو موږ هم د پاکستان په شمول له ټولو ګاونډیانو غواړو چې د افغانستان د ملي ګټو درناوی وکړي. خو دا چې موږ د دوی یا بل چا د لاس اله یو، دا هسې پوچه ادعا ده.»

د طالبانو د قطر دفتر ویلي، چې دوی د ملي اردو او نورو افغان ادارو له منځه وړل نه غواړي، بلکې په دغو ادارو کې د اړتیا وړ اصلاحات غواړي.

سهیل شاهین له یوه ترکي ټلوېزیون سره په مرکه کې ویلي، چې دوی د افغان ادارو تقویه کول غواړي.

د شاهین په خبره: «موږ نه غواړو چې اداري له منځه یوسو، بلکې موږ یې پیاوړي کول غواړو. البته اصلاح یې غواړو. اصلاح ته ضرورت لري، دا طبیعي او ضروري خبره ده. خو دا چې موږ یې له منځه یوسو، دا غلطه ادعا ده او موږ یې کاملاً ردوو.»

## له افغانستانه د امریکایي ځواکونو په ایستلو کې باید بیړه ونه شي



۲ مخ

## وزارت داخله: مفسدین در صورت اصلاح نشدن از پا درآورده می‌شوند



معین امنیتی وزارت داخله، در نشست ترتیب پلان امنیتی سال آینده با وکلای گذر، از آغاز تصفیۀ «مفسدین» سخن گفت و به قانون شکنان هشدار داد که در صورت اصلاح نشدن، از پا درآورده می‌شوند.

قوماندانی زون ۱۰۱ آسمایی کابل، دیروز میزبان اولین نشست مقامات امنیتی و ملکی ولایت کابل با وکلای گذر نواحی، رؤسای اصناف و رؤسای نواحی شهر کابل جهت هماهنگی بهتر در راستای تأمین امنیت، حل مشکلات در سطوح مختلف و اعتماد سازی میان نیروهای امنیتی و شهروندان کابل بود.

مل پاسوال خوشحال سعادت معین امور امنیتی وزارت امور داخله، در این نشست گفت که تصفیه مفسدین که با هر گروه و جناحی رابطه داشته باشند، آغاز شده است.

به گفته او، آن عده از قوماندانان پولیس که ظرفیت و توانایی کار را نداشته باشند، برکنار خواهند شد و بعد از این تقرری ها در این وزارت، به اساس شایستگی و ظرفیت صورت می گیرد.

وی افزود: «چالش فعلی ما جرایم است و باید مجرمین تجدید فکر کنند؛ در غیر آن به پولیس هدایت داده شده است که کسانی را که به قانون احترام ندارند و کارهای غیرقانونی انجام می دهند، از پا درآورند». سعادت در خطاب به مردم گفت: «ما تلاش می کنیم تا اصلاحات را به وجود بیاوریم تا اعتماد مردم بر پولیس بیشتر شود؛ اما همکاری شما مهم است، دشمنان در تلاش اند تا افغانستان به گذشته برگردد، از چهار طرف تخریب جریان دارد، شما به خاطر اولاد تان که هر روز قربانی می‌شود، با ما همکار باشید».


if You Can Think It, We Can ink it.

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL Printing Co.

وایګل چاپ

+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696

+93 (0) 202512626

Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

waygalprinting.co@gmail.com

دریـــځ

## سېلاب ځپلو ته جدي پام پکار دی

د وروستیو ورښتونو لـه املـه پـه فـراه، کندهار، هلمنـد، زابـل او هـرات ولایتونـو کـې خلکـو تـه مـالي او ځـاني زیانونـه اوښـتي دي. تـر ټولـو سـخت ورښـتونه پـه کندهـار کـې وو چـې ویـل کېـږي د ښـار پـه گـډون یـې شپږ ولسوالۍ سـختې ځپلـې دي او شـل کسـان پکـې مـړه شـوي دي.

د بارانونـو او سـېلابونو لـه خبرونـو سره سـم د ملي اردو مرسـتندوی ځـواکونه د خلکو مرسـتې تـه رسـېدلي دي. پـه ټولنیـزو شـبکو کـې ډېـر داسـې تصویرونـه خپاره شـوي چـې د ملـي اردو سرتېري ښـځې، ماشـومان او سـپین ږیري ژغـوري او خونـدي سـیمو تـه یـې وړي. ویـل کېـږي لا هم په ډېرو سـیمو کې سـتونزې شـته او بېړنیـو مرسـتو تـه اړتیـا ده. پـرون د ملگرو ملتونـو د بـشري چارو همغـږۍ کوونکـې اداري د بېړنیـو مرسـتو لپـاره د هوایي ځواک غوښـتنه کـړې وه. خلکـو هم په ډېرو سـیمو کـې د خپلو هېوادوالـو مرسـتې تـه وردانـگلي دي. پـه ځینو سـیمو کـې ملـي سـوداگرو او خلکـو سـېلاب ځپلـو تـه د اوسـېدو ځایونـه، کمپلـې او خـواړه برابـر کـړي دي، خـو پـه ځینو سـیمو کـې لا هم سـېلاب ځپلـو تـه مرسـته نـه ده رسـېدلې.

د ملـي اردو او خلکـو لـه پراخـې مرسـتې او مېړانـې هرکلـی شـوی، خـو حکومـت پـړ بلـل شـوی چـې ملکـي ادارو یـې وړ مرسـته نـه ده کـړې او سـېلاب ځپلـو تـه یـې پـام نـه دی کـړی. کـه څـه هـم طبیعي پېښـو تـه د رسـېدو پـه برخـه کـې د دولـت وزارت وایـي، چـې دوی هـم لـه تېـرې جمعـې ورځـې راهیسـې پـه دغو ولایتونـو کـې د سـېلاب ځپلـو له وضعیتـه ځان خـبر سـاتلی او مرسـتې یـې ورسره کـړې دي، خو سـیمه ییـز چارواکي او سـېلاب ځپلي وایي چـې دولـت هېـڅ مرسـته نـه ده کـړې او هغـه مـواد یـې نه دي ورتـه برابر کړي چـې دوی ورته اړتیـا لـري. د افغـاني سرې میاشـتې ټولنـه بیـا وایـي، زیانمـن کسـان اوس د خوراکـي توکـو تر څنـگ ژمنیـو توکـو، لکـه؛ کمپلـو او خېمـو تـه هـم بېړنـۍ اړتیـا لري چـې پـکار ده مرسـتندوی بنسـټونه، سـوداگر او نـور خلـک پـه دې برخـه کـې همـکاري وکـړي.

د ملـي یـووالي حکومـت لـه بـده مرغـه کلـه کوچنیو پېښـو تـه چټـک او لوی غبرگون ښـیي، خـو کلـه کلـه بیـا داسـې لـوی ناورینونـه یـو مـخ هېـر کـړي. وروسـتیو ورښـتونو او سـېلابونو سـخت زیانونـه اړولي دي، د ځـاني زیـان تـر څنـگ زرگونـه کورونـه نړېـدلي دي، خلـک پـه ډېرو سـیمو کې بند پاتې دي او له دې وروسـته هـم د ناوریـن د رامنځته کېدو شـونتیا شـته. دا حالـت سـخت او جـدي و، پکار وه چـې خپلـه ولسـمشر او یـا پـه لـوړه کچـه دولتـي پـلاوي له سـېلاب ځپلـو سره مرسـتې او د هغوی د ژغورنې پروگرامونـه همغـږي کـړي وی او د ملـي اردو تر څنـگ نـورو ادارو هـم د سـېلاب ځپلـو مرسـتې تـه ځـان رسـولی وی. لـه بـده مرغـه داسـې ونـه شـول او زمـوږ لـه طبیعـي پېښـو سره د مبـارزې د دولـت وزارت نـه یـوازې یـو بـې مانـا او نـاکام وزارت دی، بلکـې پـه دې چـاره کـې یـې ناغېـړي هـم د ښـلو نـه ده.

ولسـمشر او حکومتـي چارواکـو ته پـکار ده چې لـه ټاکنو، ټاکنیزو مسـایلو او سیاسـي کیسـو را دې خـوا سـېلاب ځپلـې هـم وویـنـي، پـام دې ورتـه وکـړي، مرسـته دې ورتـه ورسـوي او خپـل مسـوولیت دې تـرسره کـړي.

# د هند-پاکستان تجارتي جگړه؛

## پر تجارت او اقتصاد څومره اغېز لري؟

ژباړه: اکرام الدين کامل - وروستۍ برخه

بله قضیه چې د سوداگرۍ نړیوال سازمان تر جوړېدو وروسته پېښه شوه، د اروپایي ټولنې او امریکا تر منځ وه. اروپایي اتحادیې د امریکا یو قانون (Helms-Burton Act) چې له مخې یې پر کیوبا باندې بندیزونه نور هم قوي کړي وو، چلنج کړل. امریکا یو ځل بیا دغه اقدام د ملي امنیت استثناء مادې له مخې توجیه کړ، خو مخکې تر دې چې قضیه د سوداگرۍ نړیوال سازمان د شخړو حل و فصل برخه و ارزوي، امریکا او اروپایي ټولنه حل ته سره ورسېدل.

تېر کال د ډونالډ ټرمپ حکومت پر اوسپنه او المونیم تعرفې د ملي امنیت استثناء مادې په وړاندې کولو لوړې کړې. که څه هم اصلي هدف د دغو تعرفو له لوړولو څخه دا و، چې د اوسپنې امریکایي کارخونې د وارداتو پر وړاندې وساتي، امریکا له همدې کبله د ملي امنیت استثناء مادې باندې خپل عمل توجیه کړ، ځکه دوی پوهېدل چې دا اقدام به یې د سوداگرۍ نړیوال سازمان کې چلنج کېږي.

د ټرمپ حکومت د رسمي موقف خلاف د هند د گمرک اعلامیه داسې کاږي، چې پر پاکستاني اموالو گمرکي مالیات باید لوړ شي، ځکه داسې شرایط وجود لري چې هند باید لازم سمدستي اقدام وکړي. د دې اعلامیې له مخې پر پاکستاني اشیاوو تعرفې ۲۰۰ سلنو ته لوړې شوې. په اعلامیه کې د ملي امنیت یا ضروري امنیتي گټې یا د نورو مشخصو حالاتو په اړه وضاحت نه دی ورکړل شوی، چې له مخې یې باید تعرفې لوړې شي. دا حیرانوونکې ده، ځکه که هند غواړي چې یوه قوي حقوقي قضیه وړاندې کړي، باید په اعلامیه کې یې ملي امنیت یا ضروري امنیتي گټې ذکر کړې وی.

د گاټ ۲۱مه ماده به فقره هېوادونو ته د هر اقدام اخیستل چې د هېواد امنیتي گټو ساتلو لپاره یې دغه هېواد (اقدام اخیستونکی) «ضروري وگڼي» اجازه ورکوي. د بېلگې په ډول، یو هېواد کولای شي چې د سوداگرۍ نړیوال سازمان اصول له دې کبله نقض کړي، چې ملي امنیت لپاره یې ضرور وگڼي. دلته دوې پوښتنې پیداکېږي، لومړی دا چې ایا د ۲۱مې مادې دا الفاظ «که یې هېواد ضروري وگڼي» هېوادونو ته قضاوت په لاس ورکوي؟ یعنې هغه هېوادونه چې پر دغه ماده تکیه کوي، کولای شي چې خپل هر اقدام تر ۲۱مې مادې لاندې توجیه کړي، څو خپل ضروري امنیتي گټې وساتي، پرته له دې چې د سوداگرۍ نړیوال سازمان د پېنل یا استیناف له خوا دغه اقدامات وڅېړل شي؟ په دې اړه حقوقي قضیې کمې دي، خو ځینې مبصرین پر دې نظر دي چې د هېوادونو هر هغه اقدام چې د ۲۱مې مادې له مخې اخیستل شوی وي، د سوداگرۍ نړیوال سازمان د پېنل یا استیناف له خوا څېړل کېدلای شي. که څه هم ۲۱مه ماده به فقره هېوادونو ته پراخ اختیارات ورکوي، څو د ملي امنیت اړوند خپلې گټې په یو اړخیزه توگه تعریف او تعین کړي، خو پر دې سربېره دغه یو اړخیز تصمیمونه د ښه نیت قضایي څېړنې تابع دي. دغه د ښه نیت معلوملو څېړنې له دې کبله هم ضروري دي، څو هېوادونه له ۲۱مې مادې څخه بده استفاده ونه کړي.

ځکه نو لږ تر لږه، هند باید د دې لپاره یو مستدل وضاحت ورکړي، چې ولې په پاکستاني اموالو ۲۰۰ سلنه تعرفه لوړول د هند «ضروري امنیتي گټو» لپاره اړینه ده. یعنې هند باید د دې وضاحت ورکړي چې که تعرفه لوړه شي، څه ډول به د هند امنیتي گټې پرې خوندي شي؟ حقیقت دا دی چې تجارتي اموال لکه وچه مېوه، مېوه او سیمنټ د نظامي یا نورو امنیتي موخو لپاره نه استعمالېږي، نو که پر دې تعرفه لوړه هم شي څه ډول به امنیت ته گټه ورسوي؟

دویمه پوښتنه دا ده چې ایا ۲۱مه ماده د فقره هېوادونو لپاره یوه عامه استثناء ده، چې ټولو اموالو ته شامله ده؟ ځواب یې منفي دی. هېوادونه د گاټ معاهدې ۲۱مې مادې پر فقره هېوادونو باندې هغه مهال تکیه کولای شي، چې تجارت د وسلو، fissionable material یا دې ته ورته نورو شیانو مربوط وي یا هم د جنگ پر مهال یا په نړیوالو اړیکو کې د نورو بېړنیو حالاتو له کبله وي. په اوسني حالت کې هند پر پاکستاني اموالو باندې د تعرفې لوړول داسې توجیه کولای شي، چې دا وښیي چې حالات بېړني دي یا هم د هېوادونو تر منځ جنگ دی. دلته هم هند داسې قوي دلیل نه شي وړاندې کولای، چې په یو اړخیزه توگه دا تعین کړي چې دوی له پاکستان سره په جنگي حالت کې دي. دا وضعیت یوازې د سوداگرۍ نړیوال سازمان پېنل تعینولای شي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ وضعیت جنگي دی که نه؟ او د هند اقدامات په دې اړه قانوني دي یا نه؟

که هند غواړي چې د پاکستان خلاف خپله قضیه د گاټ د ۲۱مې مادې لاندې نوره هم قوي کړي، باید پورته نقاط په ذهن کې مخکې تر مخکې ونیسي.

نور اپشنونه

اوسمهال د هند او پاکستان ترمنځ دوه اړخیزه اړیکې داسې چې هند نه غواړي له پاکستان سره نورماله تجارتي اړیکې ولري او د سوداگرۍ نړیوال سازمان عادي قوانین عملي کړي.

گاټ او د سوداگرۍ نړیوال سازمان هېوادونو ته د دوه اړخیزه تجارت په برخه کې ځینې محدود فرصتونه په لاس ورکوي. د گاټ ۳۵مه ماده غړو هېوادونو ته د دې اجازه ورکوي چې د الحاق پر مهال نور غړي هېوادونه مشخص کړي، چې ترمنځ به یې د سوداگرۍ نړیوال سازمان قوانین نه عملي کېږي. د بېلگې په ډول، الف هېواد د الحاق پر مهال دا اعلان کړی چې له ب هېواد (هغه هم د سوداگرۍ نړیوال سازمان غړی دی) سره په تجارتي اړیکو کې به د سوداگرۍ نړیوال سازمان قوانین نه عملي کېږي.

هند پورته یاد شوي اپشن ته هم لاسرسی نه لري، ځکه هند او پاکستان دواړه د گاټ او سوداگرۍ نړیوال سازمان له موسسینو غړو څخه دي. همدا راز د دغه اپشن انتخاب به د گاټ ۲۴مې مادې ۱۱مه فقره نقض کړي.

کله چې عمران خان د پاکستان لومړی وزیر شو، هغه یو هیله بخښونکی پیل وکړ. عمران خان وویل چې هند او پاکستان باید د غریبۍ د ورکولو په خاطر تجارتي اړیکې قوي کړي. اوس باید عمران خان د مذاکراتو لپاره اقدام وکړي.

دویمه دا چې د دوه اړخیزه تجارت او د سارک سازمان سیمه‌ییز تجارت د پراختیا لپاره دوستانه فضا رامنځته کول هم دي. دا ډېره سخته ده چې ځانمرگي بریدونه دې د هند عسکر وژني او په عین حال کې دې د سوداگرۍ خبرې هم وشي. له همدې کبله پاکستان باید په قاطعانه شکل اقدام وکړي او د دې تضمین ورکړي چې خاوره به یې د هند خلاف ترهگرۍ کې نه استعمالېږي.

همدا راز هند باید دا په ذهن کې ولري چې له پاکستان سره د تجارتي اړیکو پراخول په جنوبي اسیا کې د اوږدمهالې سولې لپاره مهم گام دی. قوي اقتصادي اړیکې به داسې غړونه راپورته کړي چې د سولې لپاره به هم غوښتنه کوي او هم لابي، څو د دوی (تجارانو) گټې خوندي شي. د تجارتي اړیکو پراخېدلو عمومي تاثیر به دا وي چې شخړې به کمې شي او په نتیجه کې به سوله‌ییزې اړیکې پراخې شي.

پای

## ولسي جرگه: له افغانستانه د امریکایي ځواکونو په ایستلو کې باید بیړه ونه شي

د ولسي جرگې د دفاعي چارو کمېسیون ویلي، له افغانستانه د امریکایي ځواکونو په وتلو کې باید بیړه ونه شي، ځکه هېڅ تضمین نشته چې دغه هېواد بیا د کورنیو جگړو پر لور له روانېدو راوگرځوي.

د دغه کمېسیون مرستیال علي اکبر قاسمي ازادي راډیو ته ویلي، دا د گاونډیانو غوښتنې دي چې د طالبانو په خوله مطرح کېږي.

قاسمي زیاته کړې: «فعلاً هېڅ ډول اعتماد او ضمانت نشته، گاونډي هېوادونه خپلې گټې غواړي، په دې غم کې نه دي چې څوک زیان ویني او څوک وژل کېږي. دا زمینه هېڅ مساعده نه ده.»

نوموړي ویلي، هېڅ افغان نه غواړي چې بهرني ځواکونه دې د تل لپاره د دوی په خاوره کې مېشت وي او په خبره یې، هر وخت چې یو تضمین رامنځته شي، دوی به له افغانستانه ووځي.



په قطر کې تر دوه ورځنې ځنډ وروسته د امریکایي چارواکو او طالب استازو تر منځ پنځم پړاو خبرې بیا ځلي د شنبې په ورځ پیل شوې.

دغه خبرې د تېرې اونۍ د سې شنبې په ورځ پیل او د دوو ورځو لپاره روانې وې، خو بیا پنجشنبه او جمعه، دوه ورځنۍ دمه اعلان شوه او ویل شوي وو چې د دې دمې په ترځ کې به دواړه خواوې د بحث وړ مسایلو په اړه له خپلو مشرانو سره خبرې وکړي.

د سې شنبې او چهارشنبې د ورځو د خبرو په اړه هم ویل شوي وو، چې تر ډېره له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو او دا چې د دوی تر وتلو وروسته به د دغه هېواد خاوره د امریکا پر ضد نه کارول کېږي، متمرکزې وې.

د یادونې ده چې امریکا په افغانستان کې ۱۴۰۰۰ سرتېري لري، چې تر ډېره د مشورې او د افغان ځواکونو پر روزنه بوخت دي.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ مخکې له دې له افغانستانه د خپلو نیمایي عسکرو د ایستلو خبره کړې وه، خو د نوموړي دا څرگندونې په هغه هېواد کې دننه او بهر له غبرگونونو سره مخ شوې.

د افغانستان لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد چې دا وخت په قطر کې له طالب استازو سره پر خبرو بوخت دی، په دې وروستیو کې ویلي وو چې د امریکا، ناټو او اروپایي ټولنې گډ هدف په افغانستان کې د سولې یوه توافق ته رسېدل دي، نه له دغه هېواده د امریکایي عسکرو ایستل.

## د عدالت غوښتنې گروپ: د سولې له روانو خبرو سره ملکي مرگ ژوبله هم د پام وړ کمه شوې ده

د ملکي وگړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې گروپ ویلي، چې د سولې په تړاو د روانو خبرو اترو له امله، تېره میاشت د ملکي وگړو مرگ ژوبله ټیټه شوې ده.

د یاد گروپ له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې دا ځل تېره میاشت یوازې د افغانستان په ۱۷ ولایتونو کې ملکي مرگ ژوبله اوښتې ده او ۱۷ نور ولایتونه له ملکي مرگ ژوبلې خوندي بلل شوي دي.

د دغه گروپ د معلوماتو پر بنسټ، تېره میاشت ۱۰۶ ملکي کسان وژل شوي او ۵۹ نور ټپیان دي.

په خبرپاڼه کې راغلي، که څه هم د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې سړې هوا او پراخو اورښتونو جگړه ییز ماموریتونه ورو کړي او یا یې هم په ټپه درولي، خو د سولې خبرو پر ملکي مرگ ژوبلې د پام وړ اغېز کړی دی.

دغه راز د دغه گروپ د موندنو له مخې، په دې مرگ ژوبله کې لویه برخه د افغان او نړیوالو ځواکونو په هوایي بریدونو کې اوښتې ده.

یاد گروپ د مرگ ژوبلې پر کموالي خوښي ښودلې او یو ځل بیا یې په جگړه کې پر ښکېلو ټولو غاړو غږ کړی، چې په جگړه کې دې د ملکي خلکو ژوند ته ارزښت ورکړي او په سوله کې یې له دریو ښکېلو اړخونو (وسله والو طالبانو، بهرنیو ځواکونو او حکومت) څخه غوښتې، چې د ملکیانو د مرگ ژوبلې د مخنیوي مسئلې ته جدي پام وکړي او افغان ولس ته دې ډاډ ورکړي چې نور به دوی په جگړه کې نه قرباني کېږي.

CPAG
د ملکي وگړو خوندیتوب او عدالت غوښتنې گروپ

د دغه گروپ د معلوماتو له مخې، تېر کال په افغانستان کې ٦٦٨٤ ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې، چې ٢٦١٥ کسان وژل شوي او ٤٠٧٢ نور ټپیان وو.

ناهید بشردوست

# په عربستان کې د افغانستان د دوو ټوټو ځمکو اصلي مالک څوک دی؟

د حج او اوقافو وزارت وايي، په سعودي عربستان کې د افغان دولت دوې ټوټې ځمکه چې په بېلابېلو دورو کې د افغان حکومت د مشرانو له خوا اخيستل شوې او افغان حاجيانو ته وقف شوې وه، له استملاک پرته د حرم شريف ملکيت ته زياته شوې ده.
د دې پوښتنې لپاره چې په مکه مکرمه کې د افغانستان دوې ټوټې ځمکه د افغان دولت مالکيت دی، که د سعودي عربستان؟ تر اوسه څرګند ځواب نشته. دغه راز په جده کې د افغان حکومت د سياسي نمايندګۍ جوړېدو لپاره د ۸۰۰ متر مربع مساحت لرونکې ځمکه چې د (۱۹۶۴ څخه تر ۱۹۷۵) ز کلونو ترمنځ، د فيصل بن عبدالعزيز د واک په دوره کې افغان دولت ته سپارل شوې وه، په مبهم حالت کې ده.
د حج او اوقافو وزارت وايي، که څه هم ياده ځمکه د افغانستان ملکيت دی، خو په وروستيو څو لسيزو کې د حکومتي مسوولينو د نه پاملرنې له امله دغه ملکيت د افغان دولت له کنټروله وتلی دی.
د حج او اوقافو وزارت د اوقافو رييس نورالله غفوري پژواک ته ويلي، په مکه کې د افغانستان دوې ټوټې ځمکه پرته له دې چې حقوقي مسئله او استملاک يې حل شي، د حرمينو شريفينو په پراختيايي پروګرام کې شامله شوې او افغان دولت ته يې په بدل کې هېڅ ځمکه نه ده ورکړل شوې.
نوموړي زياته کړې، په جده کې يوه بله ټوټه ځمکه د افغانستان د سياسي نمايندګۍ د جوړېدو لپاره ملک فيصل افغانستان ته سپارلې وه، خو د برخليک په اړه يې تر اوسه معلومات نشته.
بلخوا د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې دا موضوع په دوی پورې تړاو نه لري.
د حج او اوقافو وزارت د اوقافو رييس ويلي: «۲۶۱ کاله مخکې په ۱۱۳۶ هجري کال کې احمدشاه بابا د کعبې شريفې په ۹۰۰ متری کې، د مکې مکرمې د سليمانيې سيمې په قراره کلي کې ۳۰ زره متر مربع ځمکه پېرلې او د احمدشاهي رباط له نومولو وروسته يې افغان حاجيانو ته وقف کړه، خو د وخت په تېرېدو دغه ملکيت غصب شو او مساحت يې کم شو او د حرم شريف په پراختيايي پروګرام کې دغه ملکيت له منځه ولاړ او پر ځای يې نوره ځمکه هم افغانستان ته نه ده ورکړل شوې».
هغه په ډاګه کړې چې په سعودي عربستان کې د مالکيت د درلودو او افغان حاجيانو ته د اسانتياوو د رامنځته کېدو لپاره، محمد ظاهرشاه په ۱۳۵۰ لمريز کال کې د کعبې شريفې د ۴۰۰ متری په ذق الهمزه کلي کې يوه ټوټه ځمکه چې پنځه پوړيزې دوې ودانۍ پرې جوړې وې، پېرلې او د «رباط نادرشاهي» په نوم يې ونوموله.
د ده په خبره، د افغانستان دغه ملکيت په ۱۳۷۴ لمريز کال کې تخريب او د کعبې شريفې په پراختيايي پلان کې شامل شو، خو د استملاک مسئله يې تر اوسه نه ده معلومه.
غفوري زياته کړې: «ولسمشر محمد اشرف غني عربستان ته د خپل وروستي سفر پر مهال د ياد هېواد له لوړپوړو چارواکو سره شريکه کړې ده او دوی ژمنه کړې چې د موضوع په اړه څېړنه کوي، خو تر اوسه پايله نه لري».
هغه ويلي، عربستان ته د ولسمشر د سفر په دوام د عدليې، بهرنيو چارو او حج او اوقافو وزارتونو څخه جوړ شوی پلاوی ټاکلی، څو ياده موضوع له نږدې وڅېړي، خو په سعودي عربستان کې د افغانستان سفير يې د سفر مخه نيولې ده.
هغه ويلي: «په سعودي کې د افغانستان سفير موږ ته وويل چې موضوع يې له اړوند وزارت سره شريکه کړې او هغه وزارت تر دې د وخت غوښتنه کړې ده».
دغه راز د افغانستان سفير ياد پلاوي ته ويلي: «د سعودي حکومت تر اوسه د حرم شريف په استملاک کې د ټولو کورونو بدل نه دی ورکړی، چې په دغو کورونو کې زموږ ځمکې هم راځي او د افغانستان سفارت د موضوع د روښانتيا لپاره يوه مکتوب هم لېږلی دی».
غفوري په ډاګه کړې: «د مخکيني حکومت پر مهال د حج او اوقافو وزير محمديوسف نيازي خپله له سعودي عربستانه مدافع وکيل وټاکه او د سعودي سفارت موږ ته ډاډ را کړ چې د استملاک شوو ځمکو په اړه تر اوسه تصميم نه دی نيول شوی او هر وخت چې تصميم ونيول شو، افغان حکومت ته خبر ورکوي».
د يادونې ده چې په کابل کې د سعودي دولت په دې اړه له څه ويلو ډډه کړې ده.

# مايک پامپيو افغانستان ته خپل سفر د سولې لپاره د ملي پلاوي په جوړېدو پورې مشروط کړی دی




امريکا د سولې په برخه کې د يوه ټول منلي او ملي پلاوي پر جوړېدو ټينګار کوي. د راپورونو له مخې، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت له افغان حکومت څخه غوښتي چې د سولې لپاره دې يو ټولمنلی او ملي پلاوی جوړ کړي. ټاکل شوې وه، چې د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو افغانستان ته سفر وکړي، خو خپل سفر يې د سولې لپاره د يوه ملي پلاوي په جوړېدو پورې مشروط کړی او ځنډولی دی.
ټاکل شوې چې په مارچ مياشت کې يو افغان پلاوی قطر ته لاړ شي او هلته له طالبانو سره د سولې په اړه مذاکرات او بحث ولري. دوی اوس په کابل کې د دغو مذاکراتو لپاره تياری نيسي، خو د دغه پلاوي پر ترکيب باندې لا هم نيوکې شته دي. وسله والو طالبانو هم ويلي، چې دوی د يوه مستقل افغان پلاوي سره د خبرو لپاره تيار دي. د دې ډلې وياندويانو رسنيو ته ويلي، چې که افغان پلاوی مستقل وي او د افغان حکومت تر تاثير لاندې نه وي، نو طالبانو ورسره خبرې کوي.
افغان حکومت په تېره لينډۍ مياشت کې له طالبانو سره د مذاکراتو په موخه د يوه پلاوي د جوړولو خبره وکړه، خو طالبانو له دغه پلاوي سره له خبرو ډډه وکړه او په خبره يې دوی د حکومت له لوري له جوړ شوي پلاوي سره خبرې نه کوي، خو پر ځای يې د افغانانو له استازو سره خبرو ته تيار دي. په همدې لړ کې امريکا هم پر افغان حکومت فشار اچولی چې يو ملي پلاوی دې جوړ کړي او دغه پلاوی به له طالبانو سره خبرې کوي. په تازه اقدام کې د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو خپل سفر له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره په نوي او ټولو خواوو ته د منلو وړ افغان مرکچي پلاوي په جوړولو پورې مشروط کړی او ځنډولی دی.
تر دې وړاندې د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خليلزاد هم له افغان حکومته غوښتي وو، چې يو با صلاحيته، صادق، ملي او ټولو اړخونو ته د منلو وړ پلاوی دې جوړ کړي او هغه به له طالبانو سره مذاکرات کوي. ده ويلي وو، چې مشورتي لويه جرګه دې د پلاوي تر جوړولو وروسته جوړه شي او دغه جرګه دې پلاوي ته ټول صلاحيتونه او واکونه ورکړي. خليلزاد تېره پنجشنبه په يوه ټوېټ کې هيله مندي ښودلې وه، چې د پلاوي د جوړولو چارې په بشپړېدو دي.
بلخوا د ولسمشر وياند هارون چخانسوري بيا ورمه ورځ په يوه خبري غونډه کې وويل، چې له طالبانو سره د خبرو په موخه د پلاوي په ترکيب کې تغيرات راځي. د چخانسوري په خبره، حکومت هڅه کوي څو داسې يو پلاوی جوړ کړي، چې ټولو اړخونو ته د منلو وړ وي، نو ژر به په اوسني پلاوي کې بدلونونه راشي. د دې ترڅنګ ټاکل شوې چې ولسمشر غني به په روانه اونۍ کې له پخواني ولسمشر حامد کرزي، ګلبدين حکمتيار، عبدرب الرسول سياف، ډاکټر عبدالله عبدالله، محمد محقق او ځينو نورو افغان سياستوالو او جهادي مشرانو سره وګوري او تر هغه وروسته به د افغان سياستوالو يو مستقل پلاوی له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره د قطر پلازمېنې دوحې ته لاړ شي.
وسله والو طالبانو بيا تېره ورځ ناوخته په يوه اعلاميه کې ويلي، چې دمګړۍ دوی له امريکا سره خبرې کوي او دغه خبرې مهم او حساس پړاو ته رسېدلې دي. د طالبانو وياند ذبيح‌الله مجاهد وايي، چې تر دې دمه د هېڅ هوکړې مسوده نه ده چمتو شوې او نه هم دواړه لوري کومې هوکړې ته رسېدلي دي. د مجاهد په خبره، ښايي مذاکرات پر مهمو مسايلو د بحث په موخه دوام وکړي.

# راپورونه: د سوريې ډيموکراټيک ځواکونه د داعش پر ضد وروستۍ جګړې ته تياری نيسي



د سوريې ډيموکراټيکو ځواکونو چې متحده ايالتونه يې ملاتړ کوي، ويلي چې له عراق سره د سوريې ختيځې پولې ته نږدې په باغوز ښارګوټي کې د اسلامي دولت ډلې يا داعش له ماتې وروسته، په دې سيمه کې وروستۍ جګړې ته تياری نيسي.
د دغو ځواکونو وياند مروان قاميشلو ويلي، دغه جګړه به وروستۍ وي او په سيمه کې اوس تر ډېره هغه بهرني جنګيالي پاتې دي چې په تونلونو کې پټ شوي او د دوی د ځواکونو پر ضد ناڅاپي چريکي بريدونه کوي.
دا په داسې حال کې ده چې د سوريې ډيموکراټيکو ځواکونو د شنبې په ورځ باغوز ښارګوټی له داعش ډلې ونيو.
د سوريې ډيموکراټيکو ځواکونو له داعش ډلې سره په باغوز کې دننه اتلس ساعته جګړه کړې ده. دوی لومړی ملکي وګړي له ښاره ايستلي او د جمعې په ماښام يې خپل بريدونه بيا پيل کړي دي.
د دغو ځواکونو وياند ويلي چې دوی په کراری پرمخ ځي، ځکه داعشيانو په سيمه کې زرګونه ماينونه ځای پر ځای کړي دي.
هغه ويلي چې د دوی ځواکونه به په څو اونيو کې د داعش ډلې پر ضد بشپړه بريا اعلان کړي.
باغوز د ديرالزور ولايت اړوند کوچنی ښارګوټی دی، چې د فرات سيند پر غاړه پروت دی او د امريکا په مشرۍ د نړيوالو ځواکونو په ګډون، له څلور کلنو عملياتو وروسته د هغه سقوط د داعش ډلې پر ضد په جګړه کې لويه بريا ګڼل کېږي، ځکه دا ښار د داعش وروستی پوخ سنګر ګڼل کېده.
په همدې حال کې فرانس پرېس خبري اژانس راپور ورکړی، چې د سوريې ډيموکراټيکو ځواکونو د داعش ډلې لسګونه نيول شوي جنګيالي خوشې کوي.
د سوريې په شمال کې د کردانو د نيمه کورواکې اداري چارواکو په يوه بيان کې ويلي، د رقا په ګډون چې د داعش اصلي مرکز ګڼل کېده، د کرد ځواکونو تر ولکې لاندې بېلابېلو سيمو کې له داعش ډلې سره د اړيکو په تور نيول شوي ۲۸۳ سوريايي وګړي، د چارواکو او قومي مشرانو په منځګړيتوب خوشې کوي.
په بيان کې راغلي چې دغو کسانو په جګړو کې ګډون نه دی کړی او لاسونه يې د خلکو په وينو نه دي سره.
د سوريې د ډيموکراټيکو ځواکونو مشران وايي، دا کسان له لارې وتلي وو، د ټولنې دودونه او قوانين يې تر پښو لاندې کړي او ځينې غولېدلي وو، خو دوی ټينګار کوي چې دا کسان لاهم د سوريې بچيان دي او د همکارۍ، اخوت او زړه سوي پر اساس له بنده خوشې کېږي.

## د کتــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### شپږم څپرکی
### ځان چې څه ګڼې، هماغه یې




زیاتره انساني چلندونه ظاهراً انسان ګنګسوي. تاسې به لیدلي وي چې پلورونکي ځینو خلکو ته په جان او قربان ښه راغلاست وايي، خو ځینو نورو ته هېڅ پام نه کوي، دا ولې؟ یا ځینې خلک له ښځو سره ډېر دروند او صمیمي چلند کوي، خو ځینې نور بیا داسې نه وي؟ ځینې کارکوونکي د یوه مدیر خبره ډېره ښه مني، خو له نورو سره داسې نه وي؟ او بلاخره تاسې خپله ولې د ځینو خبرو ته ډېر ښه غوږ ږدئ او ځینو ته چنداني ارزښت نه ورکوئ؟
تاسې خپل چاپېریال وګورئ، ځینو خلکو ته یوازې په (ای فلانیه) غږ کېږي، خو له ځینو نورو سره بیا د (ښاغلي) مختاړي راځي. تاسې وګورئ، پوه به شئ چې ځینې خلک په انسان کې باور، وفاداري او ادب پیدا کوي او ځینې یې نه پیدا کوي.
که لږ نور ورته ځیر شئ، نو وبه وګورئ کوم خلک چې ډېر درناوی پیدا کوي، هغوی ډېر زیات بریالي وي.
دا ولې؟ د دې ولې ځواب په یوه کلیمه کې راځي او هغه (فکر) دی. فکر دا بدلونونه راوړي. خلک په موږ کې هغه څه ګوري چې موږ یې په ځان کې پخپله ګورو. خلک راسره هغه چلند کوي چې موږ فکر کوو، باید راسره ویې کړي.
فکر دا قوت لري، که څوک ځان تر نورو ټیټ یا کم ګڼې، نو دا یې حقیقي وړتیاوې پټوي، ځکه همدا افکار، اعمال جوړوي. که یو انسان د حقارت احساس کوي، نو همداسې عمل به هم کوي او هېڅ یوه پرده یا نقاب به یې دا احساس تر ډېره پټ و نه ساتي. څوک چې ځان مهم نه بولي، نو مهم نه دی.
له بلې خوا که څوک فکر کوي چې دې کار ته پیدا شوی دی، نو ورته پیدا شوی دی. (د میرویس نیکه په اړه مشهوره ده چې مور یې ورته ویل: ته د یوه لوی کار لپاره زېږېدلی یې، ده همدا د مور فکر خپل کړ او اخر یې لوی کار وکړ – ژ.)
د مهمېدو لپاره باید داسې وګڼو چې مهم یو. که موږ داسې فکر وکړ، نور به یې هم زموږ په اړه وکړي. دا هم خپل منطق لري:

**ستا فکر ستا اعمال ټاکي**

او ستا اعمال دا ټاکي چې:
نور خلک تاسې ته څه غبرګون وښیي.
ستاسې د شخصي بریا پروګرام د نورو شیانو په څېر، درناوی هم په اسانه ترلاسه کوي. د درناوي ترلاسه کولو لپاره لومړی ګام دا دی چې ځان د درناوي وړ وبولئ. څومره چې ځان خپله قدرمن ګڼئ، هومره به مو نور خلک قدر کوي. تاسې د کوڅه ډبو خلکو قدر کوئ؟ نه! ولې؟ ځکه چې هغوی خپله خپل قدر نه کوي. دوی خپل ځان ته درناوی نه لري او له همدې امله ورکېږي.
موږ چې څه کوو، د ځان درناوی مو په هماغو کې ښکاري. اوس به ځینې هغه لارې چارې وګورو چې ځان ته پرې زموږ درناوی زیاتولای او له دې لارې د نورو خلکو درناوی ترلاسه کولای شو.
ځان مهم وښیئ – دا به درسره مرسته وکړي، چې مهم فکر وکړئ
قانون: دا یاد ساتئ چې ستاسې ظاهر (خبرې کوي)، نو هڅه وکړئ چې په اړه مو مثبت وغږېږي. هېڅ وخت له کوره تر هغې مه وځئ چې ځان څنګه غواړئ، هغسې نه یئ ښکاره شوي.
تر ټولو ښه شعار د امریکا د سړیو او هلکانو د جامو د انستیتیوت دی، په دې شعار کې وایي: (سمې جامې واغوندئ، ګټې تاوان به وکړئ.) دا شعار په دې ارزي چې د امریکا په ټولو دفترونو، انتظارخونو، تشنابونو، ښوونځیو او خونو کې وځړول شي. په یوه اعلان کې پولیس غږېږي او وایي:
(وران ماشوم یې له ظاهري لیدو هم پېژندلای شئ، که څه هم مناسبه نه ده، خو ریښتیا ده. نن سبا خلک د یوه ځوان په اړه یوازې د هغه د ظاهري حالت په لیدو قضاوت کوي. او یو ځل چې د یوه هلک په اړه ذهنیت جوړ شو، نو بیا یې په اړه د دې ذهنیت او ورسره د هغوی چلند بدلول ډېر سخت وي. خپل بچي ته وګورئ. د ښوونکي له سترګو ورته وګورئ. د ګاونډیانو له سترګو ورته وګورئ. آیا دا چې څنګه ښکاري او څنګه جامې یې چې اغوستي، په اړه یې ناسم تاثر رامنځته کېږي؟هغه چې چېرته ځي آیا تاسې پر دې ځان ډاډه کوئ چې سم ښکاري؟ او جامې یې سمې دي؟)
دا اعلان که څه هم لومړیو کې ماشومانو ته ګوته نیسي، خو په لویانو یې هم تطبیقولای شو. په دې جمله کې تاسې ځان د هغه په ځای وګڼئ. خپل مشر یا رئیس د هغه د ښوونکي او خپل همکاران د ګاونډیانو پر ځای وګڼئ، بیا دا جملې له سره ولولئ او ځان د خپل رئیس او همکارانو په سترګو وګورئ.
پاکوالی دومره لګښت نه غواړي. دا شعار عملي کړئ. داسې یې تفسیر کړئ چې: (ښې جامې واغوندئ، خپله بیه ښېرته پرې کوي.)
له جامو نه د خپل شخصیت د ودې او پر ځان د باور زیاتولو د وسیلې په توګه کار واخلئ! زما د ارواپوهنې یو زوړ استاد و، شاګردان به چې څنګه نهایي ازموینې ته چمتو کېدل، ده به ورته په وروستیو شېبو کې دا نصیحت کاوه چې: (دې مهمې ازموینې ته ښې جامې واغوندئ. نوې نېکټایي واخلئ. جامې اوتو کړئ. بوټان رنګ کړئ. ځان ښه جوړ کړئ، دا به درسره په ښه فکر کولو کې مرسته وکړي.) ...**دوام لري**

# پالوو

حشمت الله نوري

د پالوو ټاپوګان د شمالي ارام سمندر په لوېدیځه برخه او د فلیپین د سیند جنوب لور ته د ختیځ طول البلد د ۱۳۳ او ۱۳٦ درجو او د شمالي عرض البلد د ٦ او ۹ درجو په مینځ کې موقعیت لري، چې ټول پراخوالی یې ۴۵۹ کیلومترو ته رسېږي.
پالوو په وچه کې له کوم هېواد سره ګډه پوله نه لري، خو په شمالي ارام سمندر کې یې نږدې ګاونډیان دا دي: ختیځ ته یې د میکرنیزیا فدرالي جمهوریت، لوېدیځ ته یې د فلیپین د میندانائو ټاپوګان، جنوب ته یې د اندونیزیا ټاپوګان او شمال ته یې د باپ ټاپوګان او د فلیپین سیند پراته دي.
پالوو د استوا له کرښې سره د نږدېوالي له امله او د ارام سمندر له اوبو سره د ګاونډیتوب له کبله، ډېره لنده هوا لري. په دغه هېواد کې د اورښت موسم په مې کې پیلېږي او په نومبر کې پای ته رسېږي.
د پالوو هېواد اصلي ټاپوګان د سمندر له سطحې څخه جګ پراته او ټول غرني دي.
د دغو ټاپوګانو ځینې غرنۍ برخې په ګڼو استوايي ځنګلونو هم پوښلې دي. دغه هېواد ټول ۲۰۰ کوچني ټاپوګان لري چې یوازې اته یې د استوګنې وړ دي.
د دغه هېواد پلازمېنه د نګرولمود ښار دی او ټول ټال څه کم ۲۲ زره نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې یوازې ۴۸ کسان ژوند کوي. د پالوو ۹۰ سلنه وګړي په ښارونو او پاتې لس سلنه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دوو ماشومانو د درلودو حق لري.
د دغه هېواد ۴۵ سلنه وګړي مسیحي، ۲۵سلنه پروټسټانټ، لس سلنه ادونتست او پاتې نور د ناپېژاندي مذهب پیروان دي.
رسمي ژبه یې انګلیسي او پالوویي ده او لیکدود یې لاتیني دی.
پالوو د اداري وېش له پلوه په ۱٦ ولایتونو وېشل شوي دی. سونسورال، انګور، توبي او نګیوال یې مهم او ګڼ نفوسه ښارونه دي.
د دغه هېواد د حکومت ډول پارلماني جمهوري دی او نوی اساسي قانون یې د ۱۹۸۱ ز کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه نافذ شوی دی. د دغه هېواد لومړنی اساسي قانون د ۱۹۷۹ ز کال د جولای په نهمه جوړ شو. پالوو د امریکا له متحده ایالاتو سره د خپلواکه اړیکو یو تړون لري، چې د ۱۹۹۴ ز کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه لاسلیک شوی دی. د دغه هېواد اوسنی ولسمشر ټومي رمنجساو دی، چې د لومړي وزارت دنده هم پرمخ بیایي. د پالوو ولسمشر او د هغه مرستیال په جلاجلا توګه د خلکو په خوښه د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي او دوه ځلې کار کولای شي.
د پالوو پارلمان دوه جرګې لري، مشرانو جرګه چې نهه غړي لري او ټول د نفوس په انډول د خلکو په خوښه د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي. دویم د استازو جرګه چې ۱٦ غړي یې د خلکو په خوښه د څلورو کلونو لپاره کار کوي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.
د پالو حقوقي نظام پر هغو اصولو ولاړ دی، چې تر قیمومیت لاندې سیمو لپاره جوړ شوی دی. ستره محکمه او ملي محکمه د دغه هېواد تر ټولو لوړ قضایي ارګانونه دي. د ۱۹۹۴ ز کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه یې له امریکا څخه خپلواکي واخیسته او هر کال همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.
د پالوو وړوکی اقتصاد د سیلانیانو پر عوایدو، کرنه او د کبانو پر نیونه ولاړ دی. په دغه هېواد کې د کار وړ ډېر کسان د دولت له خوا په کار ګومارل شوي دي او خصوصي سکټور لا ډېره وده نه ده کړې. د پالوو دولت ډېر عواید له هغې مرستې څخه برابرېږي، چې د امریکا متحده ایالات یې هر کال دغه هېواد ته ورکوي. د دغه هېواد د سړي سرکلني عاید د فلیپین او د سیمې د نورو ټاپوګانو په پرتله زیات دي او څه د پاسه ۹۰۰۰ ډالرو ته رسېږي. د هغه تړون له مخې چې د امریکا متحده ایالات او پالوو لاسلیک کړی، امریکا په ۱۵ کلونو کې پالوو ته ۷۰۰ میلیون ډالره اقتصادي مرسته منلې، چې نظامي تاسیسات، سوداګریز ځایونه او د سیلانیانو لپاره هوټلونه او نور تفریحي ځایونه پرې جوړ شوي دي.
د پالوو دولت تمه لري چې په راتلونکي کې به ډېر سیلانیان دغه وړوکي ټاپویز هېواد ته سفر وکړي او د دوی عواید به د هېواد هوایي کرښو، هوایي ډګرونو، هوټلونو او نورو خدماتي ځانګو لپاره ډېر ګټور وي.
خو پاتې د نه وي چې پالوو هېواد د خپلو بنسټیزو پروژو لپاره ډېر چټک کار پیل کړی دی او ښایي اقتصاد یې نور هم وغوړېږي.
ساختماني مواد، لاسي کارونه، جامې، ښکلاییز توکي او د سمندري ځناورو له پوستکو څخه جوړ شوي شیان او موبلایل او فرنیچر د دغه هېواد مهم اقتصادی فکټورونه دي.
د پالوو له ډېرو ټاپوګانو څخه له ۱۰ تر ۱۲ د استوګنې وړ دي، خو له دې سره سره یې ډېر ټاپوګان له مرجاني کاڼو څخه جوړ او د کرنې وړ نه دي. د پالوو د استوګنې وړ ټاپوګانو لس سلنه ځمکه د کرنې وړ ده، چې اوس کرل کېږي. د پالوو پاتې ځمکه دوو ټیټو غرونو، څو غونډیو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده.
د پالوو ۲۲ سلنه د کار خلک د کرنې او کبانو د نیولو او پروسس په سکټور کې پر کار بوخت دي او د دغه هېواد اته سلنه ناخالص کورني تولیدات، هم له همدغه سکټور څخه لاسته راځي.
ناریال، وړدن، خواږه کچالو، استوایي مېوې، سابه، غوښه، هګۍ او لبنیات د پالوو د کرنې مهم محصولات بلل کېږي.
هر کال دغه هېواد ته نږدې سل زره سیلانیان سفر کوي او خپلې رخصتۍ هلته تېروي. پالوو د دغه شمېر سیلانیانو لپاره ښه هوټلونه، پارکونه، هوایي ډګرونه، ټرانسپورټ او د تفریح ځایونه لري.
سره زر او سمندري کاني مواد چې ایستل یې پوره پیسې او ډېره پرمختللې ټکنالوژي غواړي، د دغه هېواد مهم کانونه دي. پالوو له امریکا، استرالیا، جرمني او چین سره پراخې تجارتي اړیکې لري. دغه هېواد ټول پنځه هوایي ډګرونه لري، چې دوه یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.
د دغه هېواد د ټلیفون کود ۰۰٦۸۰ او د انټرنېټ کود يي پي ډبلیو دی، چې لس زره کسان یې انټرنېټ ته لاسرسی لري.
پالوو د ټلوېزیون شبکې نه لري، خو د کېبل داسې یوه شبکه لري چې د سیمې د ډېرو هېوادونو او امریکایي ټلوېزیونو خپرونې نیسي. په دغه هېواد کې دوې دولتي او اته خصوصي راډیوګانې فعالیت کوي.
په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۸ سلنه خلک په لیک او لوست پوهېږي او د ښوونځي د سن ۹۸ سلنه ماشومان یې ښوونځي ته ځي. زده کړه په دغه هېواد کې له ٦-۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره جبري ده. په پالوو کې دولتي او خصوصي سکټور دواړه د وطن د بچیانو د روزنې لپاره په ګډه کار کوي.
مورخین په دې عقیده دي چې د پالوو لومړني اوسېدونکي هغه اندونیزیایان دي، چې له میلاد څخه څو زره کاله پخوا دغو ټاپوګانو ته تللي دي. د ارام سمندر شاوخوا ټاپوکانو ته د ننوتلو د لومړنۍ لارې په توګه، د پالوو د ټاپوګانو خلک د مالي، میلانشنیز، فلیپین او میکرونیزي ډلو له ګډې ډلې څخه جوړ شوي دي.
دغه ټاپوګان د لومړي ځل لپاره په ۱۵۴۳ ز کال کې د اسپانوي سمندري سیلاني له خوا وپېژندل شول. تر ۱۹۸۸ ز کال پورې چې اسپانیا دغه ټاپوګان په الماني پوځ خرځ کړل، د پالوو ټاپوګان څه د پاسه ۳۰۰ کاله د اسپانویانو تر ولکې لاندې وو، د لومړۍ نړیوالې جګړې په کلونو کې دغه ټاپوګان جاپاني پوځونو ونیول، په ۱۹۲۰ ز کال کې د ملګرو ملتونو ټولنې د دغو ټاپوګانو قیمومیت په رسمي توګه جاپان ته و سپاره.
د پالوو ټاپوګان تر دویمې نړیوالې جګړې پورې د جاپان په واک کې وو او له هغوی څخه یې د سمندري اډې په توګه کار اخیست. په دویمه نړیواله جګړه کې امریکایي پوځونه پالوو ته لاړل او جاپانیانو ته یې ماتې ورکړه. د دغو دوو جګړو د انساني او مادي تلفاتو له امله، د دغه هېواد د اوسېدونکو شمېر له ۵۰ څخه تر ۷۰ زرو ټیټ شو. په ۱۹۴۷ ز کال کې د ملګرو ملتونو ټولنې دغه ټاپوګان تر خپل قیمومیت لاندې ونیول او د هغوی اداره یې امریکا ته وسپارله. امریکا دغه سیمه د خپلو اټومي ازمایښتي چاودنو لپاره غوره وبلله او په عوض کې یې د سیمې د خلکو د خوشاله کولو لپاره دوی ته کورواکي ومنله. د پالوو ټاپوګان په ۱۹۷۸ ز کال کې د میکرونیزي د ټاپوګانو له ټولکي څخه جلا شول.
په قانون کې له نویو بدلونونو څخه وروسته، پالوو د ۱۹۹۴ ز کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه خپلواکي واخیسته. د دغه هېواد ولسمشر چې جاپاني وینه یې درلوده، د خپل هېواد له خپلواکۍ وروسته جاپان ته په سفر لاړ او د سیلانیانو د هرکلي د اسانتیاوو د برابرولو او د سوداګرۍ د ودې په هکله یې تړونونه لاسلیک کړل.
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د پالوو هېواد نوم نشته، نو داسې ښکاري چې دغه دواړه هېوادونه خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري.
د کابل اونګرولمود ښارونو ترمنځ د وخت توپیر ۴:۳۰ ساعته او د هوا له لارې فاصله بیا ۹٦۲۰ کیلومترو ته رسېږي.



همیانی

# د سیل او چکر لپاره د مادرید په زړه پورې او تاریخي ځایونه

حمیدالله حمیدي

مادرید له ژوند او فرهنګ څخه ډک د هسپانیا هغه ښار دی، چې د نړۍ تر ټولو ښکلي ځایونه لري. داسې هم ویل کېږي، چې مادرید هغه ښار دی چې د اروپایي هېوادونو له بل هر ښار سره په سیالۍ کې مخکښ دی. کله چې د دغه ښار له تاریخي ځایونو څخه لیدنه وکړئ، نو د هسپانیا له امپراطورۍ څخه چې په شپاړسمه او اوولسمه پېړۍ کې وه، ښه سم خبرېدلی شئ. دغو تاریخي ځایونو ته مو په دې لیکنه کې کتنه کړې ده.

۱- د پرادو موزیم

له شک پرته چې د پرادو موزیم، د نړۍ تر ټولو جذاب موزیم او د مادرید ښار تر ټولو ښکلی ځای دی. په دغه موزیم کې د رنسانس دورې د استادانو شهکارونه او نور تاریخي توکي ساتل کېږي. په کلني ډول له دغه موزیم څخه زرګونه نړیوال لیدنه کوي، چې د دغه هېواد لپاره د عوایدو یوه ښه سرچینه بلل کېږي.

۲- د رتیرو پارک

د رتیرو پارک د مادرید تر ټولو شنه سیمه ده چې ګڼ باغونه په کې دي او د پرادو موزیم په څو قدمۍ کې موقعیت لري. که له خپلو ماشومانو سره یو ځای دغه پارک ته ځئ، نو د پارو وهونکي کښتۍ چکر دوولسمه هغه ټاکنه ده چې باید خوند ترې واخلئ. د نولسمې پېړۍ تر پایه پورې دغه پارک د هسپانیا په سلطنتي کورنۍ پورې تړاو درلود، چې له هغه وروسته اوس د ټولو عامو وګړو پر مخ هم پرانیستل شوی دی.

۳- سلطنتي ماڼۍ

سلطنتي ماڼۍ د مادرید بل هغه په زړه پورې ځای دی چې په لیدلو ارزي. دغه ماڼۍ په ۱۷۰۰ زېږدیز کال کې د پنځم فیلیپ لپاره جوړه شوې وه. ویل کېږي چې دا په لوېدیځه اروپا کې تر ټولو لویه سلطنتي ماڼۍ ده. د دې ماڼۍ پر دېوالونو باندې په ابي رنګ باندې ډېرې په زړه پورې نقاشۍ هم شوې دي.

۴- د لرغون پېژندنې ملي موزیم

د لرغون پېژندنې ملي موزیم هم د مادرید یو په زړه پورې ځای دی. په دغه موزیم کې د هسپانیا تر ټولو پخواني او د ارزښت وړ تاریخي اثار راټول شوي دي. یو څه چې په دغه موزیم کې به مو یې لیدل حیران کړي، هغه تاریخي اثار دي، چې قدامت یې ان د لرغوني روم دورې ته ور ګرځي.

۵- د پلازا مایور میدان (Plaza Mayor)

د مادرید بل هغه په زړه پورې ځای چې باید ویې ګورئ، هغه د پلازا مایور میدان دی. دغه میدان د رنسانس دورې پورې اړوندېږي چې د اوولسمې زېږدیز پېړۍ په لومړیو لسیزو کې جوړ شوی دی. دغه میدان لږ تر لږه نهه ورودي دروازې لري. د مادرید ښار ډېرې ودانۍ لا هم هماغه پخوانۍ جوړښت لري. هسپانیا ډېر نور تاریخي او د سیل و چکر ځایونه لري، چې هر یو یې په لیدلو ارزي. هر هېواد د سیل او چکر لپاره په زړه پورې ځایونه لري، چې ځینې یې ان په نړیواله کچه مشهور دي. ډېرې سیمې له هماغه لومړي سره طبیعي جوړښت لري او خلکو ته پکې چکر وهل خوند ورکوي، خو ځینې نورې سیمې بیا له ځینو پېښو وروسته تاریخي ارزښت خپلوي او یا دا چې د انسان په لاس ښایسته کېږي او د دې لپاره تیارېږي چې خلک چکر ته ورشي او هلته له وخت تېرولو خوند واخلي. د هیټلر هوټل هم همداسې یو ځای دی چې په اصل کې د چکر لپاره نه و جوړ شوی، خو وروسته وروسته موقعیت ته په کتو، پر یوې لویې تفریحي سیمې باندې بدل شوی دی.

د پرورا هوټل (Prora hotel) چې د هیټلر هوټل په نوم هم یادېږي، د بینز تفریحي سیمې او د بینز ساحل (Binz seaside resort) په څنګ کې موقعیت لري. دغه هوټل په اصل کې هیټلر د لږ تر لږه ۲۰ زره کسانو د اوسېدو لپاره جوړ کړی و. د هوټل د جوړېدو چارې په لومړي سر کې په ۱۹۶۳ زېږدیز کال کې پیل او تر ۱۹۳۹ زېږدیز کال پورې وغځېدې، خو د دویمې نړیوالې جګړې له کبله پای ته ونه رسېدې. دغه هوټل په ۴۵۰۰ متره اوږدوالي سره د نړۍ شپږمه اوږده ودانۍ بلل کېږي. د دغه هوټل مسوولین وایي، اوس د هوټل شاوخوا سیمه پر یوه تفریحي پارک بدله شوې ده. د دې سیمې شتمنو خلکو اوس په دغه ځای کې ښکلې تفریحي سیمې، پارکونه، مغازې، رستورانتونه او هوټلونه جوړ کړي دي او د عوایدو ښه سرچینه ورته بلل کېږي.

د هیټلر هوټل په شاوخوا کې ځکه اوس نوې ودانۍ، رستورانتونه او هوټلونه جوړ شوي دي، ترڅو د ټولنې ټیټ قشر هم وکړئ شي په دې مشهوره سیمه کې له اوسېدو خوند واخلي، ځکه د هیټلر هوټل په اصلي ودانۍ کې ژوند کول، شپه تېرول او ډوډۍ خوړل د هر چا د وسه خبره نه ده. په ټوله کې دغه سیمه اوس په یوه داسې تفریحي پارک بدله شوې ده، چې د المان هر وګړی کولی شي شپه پکې تېره کړي او یا د ورځې لخوا له خپلې کورنۍ سره څو شېبې په خوښۍ تېرې کړي.

دې سیمې ته په یو ځل ورتلو سره د ورځې یوازې د یوه کس پر سر څه کم درې یورو اخیستل کېږي. د ورځې په زرګونه کسان دغه سیمې ته د چکر لپاره ورځي چې د مسوولینو لپاره یې د عوایدو ښه سرچینه بلل کېږي. له جګړې وروسته د دې سیمې ختیځې برخې ته د هر چا ور تلل منع شول، چې دغه حالت تر ۱۹۹۰ زېږدیز کال پورې دوام وکړ، خو کله چې په همدغه کال په المان کې اتحاد رامنځ ته شو، سیمه بېرته د عامو وګړو پر مخ خلاصه شوه. دغه سیمه ځکه په زړه پورې ده، چې یو خو شنه ساحه ډېره لري او بل دا چې په څنګ کې یې ساحل واقع دی. کله چې خلک یو څه وخت د ساحل په غاړه تېر کړي، بیا کولی شي د خپلې خوښې خواړه د لوی هوټل په څنګ کې په وړو رستورانتونو، پارکونو او ځانګړو ځایونو کې وخوري.

## کډوالو چارو وزارت: روانه مارچ میاشت له پاکستانه د افغان کډوالو د راستنېدو لړۍ پیل شوې ده

د روان زېږدیز کال د مارچ میاشتې له پیلېدو سره سم، له پاکستانه د افغان کډوالو د راستنېدو لړۍ هم پیل شوې ده.

د کډوالو چارو وزارت ویلي، له پاکستانه د افغان کډوالو راستنېدل د دواړو هېوادونو او د ملګرو ملتونو د کډوالو د څانګې د پرېکړې په پام کې نیولو سره داوطلبانه دي.

د دغه وزارت مرستیالې ډاکتر عالمي ویلي، له پاکستانه د افغان کډوالو د راستنېدو لړۍ د ژمي د موسم په خاطر شاوخوا څلور میاشتې ځنډېدلې وه، چې اوسمهال بېرته پیل شوې ده.

نوموړې په دې اړه ازادي راډیو ته ویلي: «دغه راستنېدنه معمولاً د مارچ په میاشت کې پیلېږي، هغوی چې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د سازمان د کډوالۍ کارتونه لري، له هر راستانه شوي سره دوه سوه ډالر او نورې مرستې کېږي. دغه راستنېدل اجباري نه دي».

عالمي ویلي، په پاکستان کې اوسمهال څه باندې دوه میلیونه افغان کډوال مېشت دي، چې یو میلیون او څلور لکه یې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د سازمان رسمي کارتونه لري.

د نوموړې په خبره، کابو یو میلیون نور هغه کډوال دي چې په دې وروستیو کلونو کې یې په پاکستان کې د کډوالۍ کارتونه اخیستي دي.

هغې ویلي، د ملګرو ملتونو پر مرستو سربېره، افغان حکومت هم ژمن دی چې له راستنو شویو کډوالو سره د کارموندنې، پوهنې، روغتیا او د ځمکې د ورکړې په برخو کې مرستې وکړي.

نوموړې همدا راز ویلي چې په وروستیو شاوخوا اتلسو کلونو کې له ایران، پاکستان او له ځینو اروپايي هېوادونو څخه څه کم پنځه میلیونه افغانان هېواد ته راستانه شوي، چې له ډېرو سره یې مرستې شوې دي. دا په داسې حال کې ده چې له ګاونډیو هېوادونو ځینو راستنو شویو کورنیو له ازادي راډیو سره په خبرو کې ویلي، چې حکومت له دوی سره کړې ژمنې په بشپړه توګه نه دي پوره کړې.

هېواد ته د راستنو شویو افغان کډوالو عمده غوښتنه چې تل یې له رسنیو سره شریکه کړې، هغه کار موندنه او دوی ته د هستوګنې لپاره د یوې یوې نمرې ځمکې وېشل دي.

ځینو راستنو شویو ازادي راډیو ته ویلي، کلونه کېږي چې هېواد ته راستانه شوي، حکومت ورته د یوې نمرې ځمکې اسناد هم ورکړي، خو لاهم د ځمکې خاوندان نه دي شوي.

په دې اړه د کډوالو چارو وزارت ویلي، په څه کم شلو ولایتونو کې یې د راستنېدونکو لپاره د ښارګوټو د جوړولو په موخه ځمکې ځانګړې کړې، چې ځینو کډوالو ته ورکړل شوې او نورو ته به هم ورکړل شي.

د افغان کډوالو د راستنېدنې بهیر په داسې حال کې پیلېږي، چې د افغانستان ګاونډي هېوادونه چېرې چې ډېرې افغانان مېشت دي، له اقتصادي ستونزو سره مخ دي او د کډوالو وتل یې په زیان تمامېږي.

## د سرې میاشتې ټولنه: مرستندویه بنسټونه او سوداګر دې له سېلاب ځپلو سره مرستې وکړي

افغان سرې میاشتې ټولنې له خلکو او مرستندویو بنسټونو غوښتي، چې په ځینو ولایتونو کې دې د وروستیو ورښتونو او سېلابونو د راتللو له امله، له سېلاب ځپلو کورنیو سره مرستې وکړي.

په فراه، کندهار، هلمند، زابل او هرات کې د سېلابونو په راوتلو سره د افغانۍ سرې میاشتې ټولنې ویلي، اړمنو کسانو ته د مرستو لومړنۍ لړۍ پیل شوې او تر اوسه په کندهار کې پر دوو سوو کسانو کمپلې وېشل شوې دي.

د افغان سرې میاشتې ټولنې ویاند میرام صداقت ازادي راډیو ته ویلي، چې تر ارزونې وروسته به نورو ولایتونو ته هم د مرستو رسولو لړۍ پیل شي.

صداقت ویلي، زیانمن کسان اوس د خوراکي توکو ترڅنګ ژمنیو توکو، لکه کمپلو او خېمو ته هم بیړنۍ اړتیا لري، چې پکار ده مرستندویه بنسټونه او سوداګر په دې برخه کې همکاري وکړي.

نوموړي زیاته کړې: «موږ د افغانستان له ټولو خلکو په ځانګړي ډول له سوداګرو او هغوی چې ډېرې مالي سرچینې په واک کې لري، غوښتنه کوو چې په دې برخه کې د سرې میاشتې ټولنې او نورو مرستندویو ټولنو سره همکاري وکړي، ترڅو وکولی شو چې اړمنو ته په خپل وخت لازمې مرستې برابرې کړو».

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د سختو ورښتونو له کبله خلکو ته درانه ځاني او مالي تلفات اوښتي دي.

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو همغږې کوونکې اداري یا اوچا د شنبې په ورځ په خپله بیانیه کې ویلي، چې د کندهار په بېلابېلو سیمو کې د ماشومانو په ګډون، شل تنه وژل شوي دي.

په بیان کې دغه شان راغلي چې د کندهار په ارغنداب، دامان، سپین بولدک او ډنډ ولسوالیو کې د دغو سېلابونو له امله نږدې لس کسان ترې تم شوي دي.

افغان چارواکي هم د سېلابونو له امله د اوښتو تلفاتو په اړه بېلابېل ارقام وړاندې کوي.

په ورته وخت کې له طبیعي پېښو سره د مبارزې لپاره د دولت د وزارت د نشراتو مسوول حشمت بهادري ویلي، چې په هلمند او کندهار کې د سېلابونو له امله د قربانیانو شمېره لسو ته رسېږي.

خو د کندهار د عامې روغتیا رییس عبدالقیوم پخلا د یکشنبې په ورځ ازادي راډیو ته ویلي، چې د راپورونو پر اساس په بېلابېلو ولسوالیو کې تر اوسه ۱۲ تنه وژل شوي او ۳۵ نور ټپیان دي.

بلخوا د هلمند د والي ویاند عمر ځواک هم ویلي، چې په مرکز لښکرګاه کې سېلابونو تر اوسه شپږ تنه وژلي او څلور نور یې ټپیان کړي دي.

که څه هم بیړنیو پېښو ته د رسیده ګۍ په برخه کې ډېرې نیوکې موجودې دي، خو دا ځل د ملي امنیت شورا دفتر امنیتي ځواکونو ته امر کړی، چې زیانمنو شویو کورنیو ته رسیده‌ګي وکړي.

د کورنیو چارو وزارت د ویاند د دفتر سرپرست نصرت رحیمي ویلي، که امنیتي ځواکونه په خپل وخت عمل ونه کړي، ممکن د قربانیانو شمېره زیاته شي.

رحیمي زیاته کړې: «که چېرې امنیتي او دفاعي ځواکونو مرستې نه وی رسولې، مونږ به د ډېرو تلفاتو شاهدان وو، خو خوشبختانه د امنیتي ادارو له خوا زیانمنو شویو سره بیړنۍ مرستې وشوې».

بلخوا له طبیعي پېښو سره د مبارزې لپاره د دولت وزارت ویلي، په هلمند، کندهار او فراه کې زرګونه کسان د امنیتي ځواکونو له لوري ژغورل شوي دي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٤,٦۰ |
| € | ۸٤,۷۰ |
| Rp. | ۵۳۳ |
| ₹ | ۱۰۵۵ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹۷,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوتوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily





المبارک

توریستي شرکت

المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

flydubai

TURKISH AIRLINES

Emirates

ARIANA

0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55

کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.



دوشنبه د ۱۳۹۷ د کب ۱۳مه | د ۲۰۱۹ د مارچ څلورمه | دویم کال | ۳۴٤مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۱۸ | ۱۸ | ۱۸ | ۲۰ |
| -٦ | ٤ | ۳ | ٥ | ٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٥۷ | لمر ختل ۰٦:۲۰ | ماسپښین ۱۲:۰٦ | مازیگر ۰۳:۲۲ | ماښام ۰٥:٥۱ | ماخوستن ۰۷:۱٥

## نړی




### شورای عالی صلح:

## برگزاری جرگه مشورتی صلح برای مدت نامعلوم به تعویق می افتد



شورای عالی صلح می گوید که برگزاری جرگه «مشورتی صلح»، به دلیل بروز مشکلات از جمله بارندگی های اخیر، برای مدت نامعلوم به تعویق خواهد افتاد. قرار بود که جرگه «مشورتی صلح»، با کمیت بیش از دو هزار تن در ۲٦ ماه روان، به هدف اجماع روی میکانیزم مذاکرات، مشخص کردن خطوط اساسی و محدودیت های صلح و توافق احتمالی صلح با طالبان، در کابل برگزار شود.

اسدالله زائری معاون سخنگوی شورای عالی صلح، به آژانس خبری پژواک گفت که برگزاری این جرگه، به دلیل بروز مشکلات فنی و ازسویی هم، ریزش برف و باران درکشور که سبب مسدود شدن برخی از مسیرها گردیده، برای مدتی نامعلوم به تعویق خواهد افتاد.

وی در حالیکه به تاریخ جدید برگزاری این جرگه اشاره ای نداشت؛ اما گفت، کمیسیون تخنیکی پس از صدور فرمان رئیس‌جمهور، در این مورد تصمیم اتخاذ خواهد کرد که برگزاری جرگه تازمانی به تعویق بیفتد.

وی افزود، هرچند آمادگی ها برای برگزاری این جرگه، بگونۀ نورمال ادامه دارد؛ اما بخاطر همه شمول بودن جرگه و اینکه اراده واقعی مردم در آن تمثیل گردد، در چنین مقطع زمانی که اکثریت شهروندان با مشکلات سیلاب روبه رو اند، امکان برگزاری جرگه در زمان معینه آن موجود نیست.

قبل از این، محمدعمر داودزی، نماینده رئیس‌جمهور در امور منطقه یی برای اجماع صلح و رئیس دارالانشای شورای عالی صلح، به تاریخ ٦ جدی گفته بود که قرار است رئیس‌جمهور در مورد برگزاری لویه جرگۀ مشورتی صلح که با شرکت بیش از دو هزار تن به شمول حداقل سی درصد زنان از ۲٦ تا ۲۹ حوت در کابل برگزار می‌شود، فرمان صادر کند. اما اکنون که حدود یک هفته از آن میگذرد، تا هنوز رئیس جمهور فرمانی را در مورد برگزاری لویه جرگه صادر نکرده است.


افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونه د خلکو د ساتنې لپاره!

نیروهای ملی دفاعی و امنیتی افغان برای محافظت مردم!




په کندهار ولایت کې د بلک هاک چورلکو له ښوونیزې دورې د افغان هوايي ځواک یوه ډله پیلوټان او عمله فارغ شول. په کندهار ولایت کې د هوايي ځواک قوماندان نوي پیلوټان له دې امله وستایل چې شپه او ورځ د پروازونو لپاره د مهارتونو ترلاسه کولو ته ژمن دي. دغه کار د هوايي ځواک د بریا ضمانت کوي.

یک تیم پیلوت ها و عمله قوای هوایی افغان از دوره آموزشی هلیکوپتر های بلک هاک در ولایت کندهار فارغ شدند. قوماندان قوای هوایی در کندهار بخاطری از پیلوت های جدید ستایش کرد که شب و روز متعهد به فراگیری مهارت ها برای پرواز اند. این امر باعث تضمین موفقیت قوای هوایی می باشد.